بسم الله الرحمن الرحيم

وعن جابر قال قال رسول الله ﷺ اما بعد فان خير الحديث كتاب الله وخير الهدى هدى محمد وشر الامور محدثاتها وكل بدعة ضلالة. ترجمه: د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې فرمایلي یې رسول الله صلی الله علیه وسلم پس له دې نه په تحقیق سره غوره د خبرو کتاب الله او غوره دلارو لاره د محمد صلی الله علیه وآله وسلم او ناکاره دکارو نو هغه نوي پیدا شویدي او هر یو بدعت ګمراهي ده «مسلم»

# الدعوة

تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنكر ... يدعون الى الخير ويأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر

دافغانستان دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة نشراتي ارګان

## زموږ هدف

موږ د هر دول الحاد، شرك، بدعت، فساد ظلم اونا روا وڅخه پاکه اسلامي ټولنه غواړو او دالله جل جلاله په حکمه دالله جل جلاله دقانون حکومت غواړو او ددې مقصد ترحصوله پورې به جهاد ته دوام ورکوو.

لومړی مخ - څلورم کال - (۵۳) ګڼه - د ۱۴۱۰ هق د رجب المرجب د میاشتې (۲۵) = د ۱۳۶۸ هش کال د حوت د میاشتې (۳) = د ۱۹۹۰ م کال د فبروری د میاشتې (۲۲)


# قرآني دعوت او هدایت

الله اکبر

په وړاندېني بحث کښې مو وویل چه د فرعون په شان داسې یو سرسخت دښمن په کور کښې د حضرت موسی علیه السلام لویدل او د فرعوني ظلم او استبداد نه د هغه نجات، دالهي قدرت معجزه وه. که تاسو دغه تول مهیب او خطرناك شرایط په نظر کښې وساتئ او ددغو شرایطو هره یوه لحظه ستر ګو ته راولئ نو درته به معلومه شي چه د دغې هرې یوې لحظې نه د حضرت موسی علیه السلام نجات دالهي قدرت د معجزې ښکارندوی دی. قرآن عظیم الشان دغه داستان په دې ډول بیانوي:

فالتقطه آل فرعون ليكون لهم عدوا وحزنا ط ان فرعون وهامن وجنودهما كانوا خاطئين ه وقالت امرات فرعون قرت عين لى ولك لا تقتلوه ق عسى ان ينفعنا او نتخذه ولدا وهم لا يشعرون ه واصبح فؤاد ام موسى فارغا ط ان كادت لتبدى به لولا ان ربطنا على قلبها لتكون من المؤمنين ه وقالت لاخته قصيه فبصرت به عن جنب وهم لا يشعرون ه وحرمنا عليه المراضع من قبل فقالت هل ادلكم على اهل بيت يكفلونه لكم وهم له ناصحون ه فرددنه الى امه كى تقر عينها ولا تحزن ولتعلم ان وعد الله حق ولكن اكثرهم لا يعلمون ه.

(القصص ۸-۱۳)

یعنې د فرعون سړو هغه (موسی علیه السلام) راپورته کړ د دې له پاره چه نتیجه داسې مقرر شوې وه چه موسی علیه السلام د فرعونیانو له پاره دښمن او د هغوی له پاره د ړ د سرجوړ شي او ورته د غم موجب شي. شك نه شته چه فرعون او هامن او د ارو دسته یې ګمراهان ؤ. د فرعون ښځې خپل څښتن ته وویل چه په دې هلك به زما او ستا ستر ګې خوښې شي. هغه مه وژنه کیدی شي یا خو موږ ته ګټه ورسوي او یا یې په زوئ والي ونیسو. هغوئ له عاقبت نه بې خبره وو او د موسی علیه السلام د مور د زړه د صبر کاسه ډکه شوې وه. که موږ د هغې زړه نه وای ټینګ کړی نو نژدې وه چه دغه راز به یې افشاء کړی وای. زموږ اراده داوه چه هغه به مومنا نو کښې وشمیرل شي او د موسی علیه السلام خور ته یې وویل:

چه د خپل ورور څارکوه او شاشا ته یې ځه. خور یې ورته له ورایه وښایه کتل او فرعونیان ناخبره وه. او موږ په موسی علیه السلام باندې

پاتې په (۴) مخ کښې

# اسلامي کانفرنس دکشمیر له مسلمانانو سره خپل ملاتړ اعلان کړ

داسلامي کانفرنس د مرکزي دفتر منشي ښاغلي ډاکتر حامد العابد دکشمیر په مسلمانانو باندې د هند دحکومت د زور او ظلم په هکله خپله خواشیني ښکاره کړې ده. ده ویلی دی چه ما داسلامي کانفرنس د مشر په حیث دکشمیر په مسلمانانو باندې د هند دحکومت د زور زیاتي په هکله دملګرو ملتو دعمومي منشي او د هند دموجوده حاکمانو سره خپله رابطه قایمه کړې او د هند حاکمانو ته مې په خط کښې لیکلي چه دکشمیر له مسلمانانو سره دې دملګرو ملتو له قرارداد و نو سره سم چلند وشي. هغوئ ته دې د-

پاتې په (۴) مخ

# په تاجکستان کې د روسانو په ضد مظاهرې

په تاجکستان کې د ناآرامیو لومړی راپورونه د شوروي د خبري ساري ایجنسۍ (تاس) له خوا ورکړل شول او ویې ویل چه په دې ښار کې د سختې ناقرارۍ له امله خلکو په چوراوچپاو شروع وکړه نو ځکه د ولایت پارلمان په دوشنبې ښار کې اضطراري حالت اعلان کړ او د شپې له پلوه سخت بندیز ولګول شو. په راپورونو کښې ویل شوي چه مظاهره چیانو دکمونیست ګوند د دفترونو په مخکښې دکمونیست ګوند په خلاف نارې وهلې چه د دې مظاهرې د شدت د پیدا کولو په نتیجه کښې یو شمیر خلك مړه او ټپیان شول، دخلکو دا ز دحام او مظاهرې دا پورونو سره سم مظاهره کوونکو په کانو ویشتلو سره د پولیسو په یو ماموریت حمله وکړه او یو سرویس موټر ته یې اور واچوه. حتی ویل کیږي چه دکمونیست ګوند دفتر ته یې هم اور ورته کړی دی. ناقرارۍ څخه داسې څرګندیږي چه دا کار محلي خلکو د هغو خوابدیو له کبله کړی چه په هغه جمهوریت کښې را تلونکو ارمني مهاجرو ته په رعایتي ډول کورونه ورکول کیږي.

په شوروي کښې دا لومړی ځلې نه دی چه د قفقاز د اقلیتونو او مذهبي تشنج له منځه د کسپین له بحیرې نه پورې غاړه د منځنۍ آسیا ته خپریږي چه دا د ګورباچوف او په مسکو کې د برسر اقتدار کمونیست ګوند

پاتې په (۴) مخ کښې

# د سرنګر په ښار کې مسلمانانو دوه هندي مامورین ووژل

د باوري خبرونو څخه خبر دی کله چه د سرنګر د حکومتي تلویزیون مدیر څخه خپل د دفتر څخه کورته راته، وویشتل شو او ورسته مړ شو. د تلویزیون مدیرته څو ګړۍ د کشمیري سرتېرو له خوا مړګ ګواښونه شوي وو. د ښاغلي «کاول» ملګري وایي چه ده مقاماتو ته د مړګ د ګواښونو په باره کې خبر ورکړی و، خو حکومت د هغه د ساتنې د پاره پولیس موظف نه کړل. وروسته له هغه چه د راډیو تلویزیون مدیر ووژل شو، دکاسګرانو اتحادیې د حکومت نه وغوښتل چه د راډیو او تلویزیون دکارکوانو له پاره چه په جمو او کشمیر کښې کار کوي امنیتي ترتیبات ونیول شي. ځکه چه هغوئ د عدم امنیت په فضاء کښې ژوند کوي. همدارنګه د سه شنبې په ورځ د استخباراتو یو مامور و تښتول شو او بیا د ښار نه بهر په یوه ونه کښې غرغره شو. د اد استخباراتو دوهم مامور دی چه په دوه ورځو کښې

# شورش های شهر «دوشنبی» مرکز جمهوریت تاجکستان شوروي منجر به هلاکت (۳۷) نفر گردید

رادیو های محلی اعلان کرده اند که بزودي وسایط نظامی باعث اکر در شهر گزمه خواهند کرد. در اعلامیه از مردم خواسته شد تا به منظور جلوگیری از فاجعه جاده ها را خالی کنند. شب روز سه شنبی گذشته درحالیکه خشونت در تاجکستان ادامه داشت، رئیس حزب کمونیست آن جمهوریت استعفیٰ داد. روزنامه جوانان کمونیست گذارش داد که تظاهر کنندگان به سوی عمارات مرکز حزب در شهر دوشنبی راه پیمائی نموده خواستار استعفای رهبران جمهوریت تاجکستان شدند. روزنامه نوشته که تظاهر کنندگان کیتهٔ را تعین کرده

بقیه در صفحه (۴)

بقیهٔ شماره (۵۱)

# تحلیل کوتاهی پیرامون تبلیغات ناکام دشمن در رابطه باجهاد افغانستان

حقا! که اگر جلوه چنین طوفان ها نمانسوني ولانه بر اندازه چون کمونیستها بوسیلهٔ همین کیتهای ناچیز (از نگاه تعداد) و کیفیت های بزرگ (از لحاظ عقیده وایمان) افغانی در همچون سرزمین قهرمان

بقیه در صفحه (۴)

الدعوة

مؤسس: مولوي جميل الرحمن
خپروونکی اداره: د دعوت او ارشاد رياست
تاسيس کال: ۱۴۰۷ هـ ق یا ۱۳۶۵ هـ ش
پوسټ بکس ... پشاور - پاکستان

# د روس او امریکا جوړجاړی د افغانستان د مجاهد ولس په تصمیم کې بدلون نه شي راوستی

ټوله بشري نړۍ عموماً او د ورځنيو پیښو څارونکي او محققین خصوصاً په دې حقیقت آګاه دي او پوهیږي چه د افغانستان د مسلمان او مجاهد ولس بې کچه ایثار او ټینګار د نړۍ محرومو او مستضعفو ولسونو ته د بیدارۍ او آزادۍ عبرتناک درس ورکړ.

په کومه ورځ چه د کرملین دارو ماراڼو د افغانستان د مجاهد ولس د فولادي ایمان په مقابل کښې د خپلې ذلیلتیا اعتراف وکړ او خپل فوځونه یې ظاهراً د افغانستان له حریم نه وایستل، د نړۍ په مستضعفو او د استعمار له کومې څخه په تېرشویو ولسونو کښې د بیا ژوند کتلو او حریت ساه وغړېده او ورو ورو د هغه سیمه ایزآزادۍ بخښونکي غورځنګ پراخ او جهان شمول شو. په آوایلو کښې خو اویدیځې نړۍ خصوصاً امریکا د دغه غورځنګ ملاتړ وکړ ځکه چه له ټول لویدیځ خصوصاً له امریکا سره دا ذهنیت موجود وو چه د کمونیزم په مقابل کښې ودریدل، نا شونی او له امکان نه لیرې خبره ده، خو چه کله یې د مؤمنو مجاهدینو اتلوالی او له شهامت سره مینه ولیده له نو د دوئ ویښته هم زیږه شول.

لنډه دا چه د افغانستان د مجاهد ولس لس کلن مقاومت دا ثابته کړه چه د افغانستان د مؤمنو مجاهدینو د ثبات او مقاومت باعث او اصلي محرک اسلام دي او اسلام ټول بشر ته د نړۍ وال استکبار او استعمار په مقابل کښې د پاڅون درس ورکوي، ځکه دا اسلام دی چه د بشر د دنیاوي او اخروي نیکمرغۍ اسباب برابروي، دا اسلام دی چه انسانانو ته د حریت او له انسان څخه د انسان د آزادۍ لارې چارې ښايي. دا اسلام دی چه انسانانو ته د هر ډول ښکیلاک او ځبیښاک د مخنیوي لارې او طریقې رهنمایي او بالآخره دا اسلام دی چه د انساني ژوند په ټولو بعا دو کښې د هر عصر او هرې پیړۍ له ایجاباتو او غوښتنو سره سم په دقیق او عمیق ډول کامل او پوره لارښودنې لري.

په دې اساس نړۍ وال استکبار تر هر څه زیات له اسلام او اسلامي نظام سره کینه لري او په هر ځای او هره سیمه کښې چه د اسلامي تحریک خوځنده آثرات لمس کړي. په خپل ټول توان او قوت سره د هغه مقابله کوي او غواړي چه له منځه یې یوسي.

په افغانستان کښې هم تر کومه ځایه پورې چه زموږ غورځنګ د کمونیزم ضد فعالیت درلود او د یو آزادۍ غوښتونکي بهیر بڼه یې

پاتې په (۳۳) مخ کښې

# د کنړونو د ولایت متحده اسلامي کمیسون

## د انتخابي کمیسون د کار لایحه

د کنړونو د ولایت انتخابي کمیسون خپل محوله وظایف د لاندینۍ لایحې مطابق تنظیموي:

۱- د متناسبې نمایندګۍ د انتخاباتو په اساس به انتخابات صورت نیسي.

۲- د رایې ورکوونکو افرادو اوصاف په لاندې ډول دي:

الف- هر رایې ورکوونکی شخص به د خپل عمر پنځه لس کلنې پوره کړې وي او یا به یې عمر له دې څخه پورته وي.

ب- هر رایې ورکوونکی شخص به د (۱۳۶۵) هـ ش کال ترپایه پورې په اسلامي جهاد کښې عملاً سهیم وي. د (۱۳۶۶) هـ ش کال له پیل څخه وروسته د مجاهدینو په صفونو کښې ورننوتي اشخاص د رایې ورکولو حق نه لري.

ج- هر رایې ورکوونکی شخص به د غیر اسلامي تنظیمونو سره په ارتباط متهم نه وي.

د- هر رایې ورکوونکی شخص به د دهري حکومت په کټه په فعالیت او ارتباط او د مجاهدینو پرضد عمل متهم نه وي.

و- هر رایې ورکوونکی شخص به د اسلامي احکامو پابند او په کبیره ګناه سره مشهور نه وي.

۳- د هغو افرادو اوصاف چه د مرکزي شورای د غړو په صفت انتخابیږي په لاندې ډول دي:

الف- د مرکزي شورای هر غړی به د خپل عمر دیرش کلنې پوره کړې وي او یا یې عمر له دیرش کلنۍ څخه پورته وي.

ب- د پورته ذکر شوو دوهمې مادې د آخري درې جزونو اوصاف به هم لري.

ج- د مرکزي شورای هر غړی به د (۱۳۵۸) هـ ش کال ترپایه پورې په اسلامي جهاد کښې عملاً سهیم وي.

د- اهل حل والعقد شخصیت به وي.

و- د اسلامي اداری د چلولو اهلیت او کفایت ولري.

۴- رایې ګیرې به په ټاکلې یوه ورځ او یوه نیټه سرته رسیږي. چه د سهار له نهو بجو څخه شروع او د ماښام تر اوو بجو پورې به دوام کوي. د ولایت په داخل او کیمپونو کښې به رایې ګیرې په عین ورځ او نیټه صورت نیسي. له دې ټاکلې نیټې او وخت څخه وروسته بیا هیڅوک د رایې ورکولو او شکایت حق نه لري. البته په استثنایي مواردو کښې د مربوطه انتخابي کمیسیون پریکړه د تعمیل وړ ده.

۵- د کنړونو د ولایت په داخل او بهر په کمپونو کښې د رایې ګیرې مرکزونه د دې لایحې په مل جدولونو کښې ښودل شوي دي. رایې ورکوونکي به د خپلو مربوطو حلقو انتخابي مرکزونو ته په ټاکلې ورځ او نیټه د شروع او ختم په نظر کښې نیولو سره حاضریږي او د رایې ورکوونکو افرادو کرایې او سفري مصارف به د عالي کمیسون له خوا اجراء کیږي.

۶- د هر رایې ورکوونکي شخص د ووټ اچولو په وخت کښې به د هغه د شني لاس په غټه ګوته د انتخابي کمیسون له خوا په یوه مخصوص رنګ سره نخښه کیږي، چه د دوهم ځل د ووټ اچولو چانس له منځه یوړل شي. بیا مو که ووټ اچوونکي په یوه حلقه او په څو حلقو کښې دیو ځل څخه په زیات ووټ اچولو مجرم ثابت شي په لس زره کلدار و نقدي جزا محکوم او جرم به یې د مربوطه تنظیم څخه وصول کیږي.

۷- د هر تنظیم صندوق ته ووټ باید د تنظیم په نامه واچول شي، د رایې ورکوونکي چه هر تنظیم خوښ وي په آزاد اراده ووټ ورکولی شي. د ووټ اچولو ځای به په خاصه توګه تنظیم شوی وي.

۸- هر هغه ووټ چه رایې ورکوونکي ته د ووټ اچولو لپاره ورکول کیږي د هر انتخاباتي کمیسون د ټولو غړو له خوا به دستخط شوی وي. که کوم ووټ د انتخاباتي کمیسون د یو تن غړي له امضاء څخه پاتې وي اعتبار نه لري البته د شرعي عذر په صورت کښې د کمیسون د نورو غړو فیصله او دستخطونه بسنه دی.

۹- د عالي کمیسون له خوا به د دولې د شپاړسمې نیټې څخه د څو حلقو په راس کښې چه په جدولونو کښې ښودل شوي دي د مراقبت او کنترول د کمیسون په نامه یو کمیسیون چه لس تنه اداري هیئت او شل تنه امنیتي مؤظفین لري د مربوطه حلقو د انتخاباتي کمیسونو د تعینولو او هم د دغو حلقو د انتخاباتي پروګرام د مراقبت او کنترول په غرض مؤظف کړل شي چه د خپل کار د تکمیل څخه وروسته به مکمل راپور د عالي کمیسون د اطمینان په غرض عالي کمیسون ته استوي.

۱۰- د هر انتخابي کمیسون سره به د رایې اچونې ځای کښې د مربوطه کمپونو څخه خلویښت تنه مجاهدین د امنیت د تحفظ په غرض مؤظف کیږي چه شل تنه به د کمیسون د کیناستلو ځای د امنیت لاندې ساتي. لس تنه به د کشف او تعقیب وظیفه اجراء کوي او نور پاتې لس تنه به د رایې ورکوونکو د راتللو او تللو رهنمایي کوي.

۱۱- هر انتخابي کمیسون د خپلو ټولو غړو په توافق صلاحیت لري چه د دې لایحې د محتوا د تطبیق په صورت کښې د رامنځته کیدونکو ستونزو د رابېدا کیدو په صورت کښې متبادل تجویز ونیسي او اقدام وکړي.

۱۲- د خط اول د مجاهدینو رایې ګیرې به د عالي کمیسون له خوا د یوه مؤظف هیئت په ذریعه په دې ډول صورت نیسي، چه د هر تنظیم د مجاهدینو موثق احصائیه به ترلاسه کوي او د مؤظف هیئت د تصدیق او امضاء وروسته به د هر تنظیم د خط اول د مجاهدینو تعداد د رایې شمارې په وخت کښې په نظر کښې نیول کیږي.

۱۳- دا چه په کمپونو کښې د ولایت د داخلي اصلي حلقو په ارتباط

# د «ساما» د ماؤئیستي سازمان عمومي منشي

## او د «ملي متحدې جبهې» رئیس، عبدالقیوم «رهبر» کلکاني ووژل شو

د معتبرو خبرځایو نو خبر دی چه د «ساما» د مارکسیستي سازمان عمومي منشي او د تش په نامه «ملي متحدې جبهې» رئیس، پروفیسر عبدالقیوم «رهبر» کلکانی تقریباً له پنځلس کالو راپه دې خوا په اروپا کښې اوسیده او د یو مشهور کمونیستانو له جملې څخه شمیرل کیده چه د ملحد ماؤئیستي ډلګۍ مشري یې په غاړه درلوده. د پروفیسر عبدالقیوم کلکاني بل ورور «مجید» کلکاني نومیده چه پخوا یې د «ساما» د ماؤئیستي سازمان د عمومي منشي توب دنده په غاړه درلوده او د ۱۳۵۹ هـ ش کال په اوائلو کښې د کارمل د ملحد رژیم له خوا د کابل په میکرویانو کښې ونیول شو او د (۱۳۵۹) هـ ش کال د ثور د میاشتې په (۱۹) شپه د نورو (۱۴) تنو کمونیستانو سره یوځای تر یوې محاکمې وروسته اعدام شو. د مجید کلکاني تر اعدام وروسته د «ساما» د مارکسیستي سازمان د رهبرۍ له غړو څخه د نادر علي «پویا» په نوم یو کمونیست د دغه باند د عمومي منشي په صفت وټاکل شو چه هغه هم د سیاسي دفتر له څو تنو غړو سره یوځای د رژیم له خوا دستګیر او تر یوې محاکمې وروسته اعدام شو. د خبر

پاتې په (۳) مخ کښې

د اسلام د الله تعالی دین دی او قرآن او سنت د هغه دوه مستحکمې ستنې دي چه

# دکنړونو ولایت متحده اسلامي ....

انتخاب صورت نیسي او دمختلفو حلقو مجاهدین په یوه کیمپ کښې اوسېږي نو بایدچه انتخاباتي کمیسون دووټ دکارت دحلقې ستون د رایې ورکوونکی داصلي حلقې په رابطه حلقه بندي کړي.

۱۴- دووټونو دجمع اوري په صورت کښې به یوصندق چه دولس جعبې ولري هرانتخاباتي کمیسون له ځانه سره لري. دووټونو داچولو دوخت دختم څخه وروسته دې هرصندق دمربوطه کمیسون دټولوغړو په امضاء مهرلاک شي او په عاجله توګه دې هغه وشي چه صندق درایې شماره لپاره عالي- کمیسون ته حاضرکړي.

۱۵- دعالي کمیسون له خوا به یو فوق العاده باصلاحیته هیئت چه دولس تنه غړي ولري اودهرتنظیم یو یو تن غړی په کښې شامل وي مؤظف کړل شي چه دصندقونو دووټونو درایې شماري وکړي. په دې ډول چه هرصندق عالي کمیسون ته راوړېږي مؤظف هیئت به دانتخاباتي کمیسون دغړو په احضار چه صندق ئې له ځانه سره راوړی دی صندق برسیره کوي او مرتبه جدول کښې به دهرتنظیم رایې - شماري ثبت کوي. وروسته به مرتبه خانه پوري شوی جدول مؤظف هیئت او دانتخاباتي کمیسون ټول غړي امضاء کوي. باید جدول بدون له قلم خوړنې، ګل او تراشې څخه خانه پوري شي.

۱۶- دټولو صندقونو دجداګانه رایې شمارې د تثبیت وروسته به عمومي نتیجه په یوه ورقه جدول کښې خلاصه کېږي، دعمومي نتیجې جدول به د مؤظف هیئت او دانتخاباتي کمیسونونو دهرکمیسون رئیس امضاء کوي جدول به قلم خوړنې نه لري.

۱۷- عالي کمیسون به عمومي نتیجه دعامې خبرتیا په عرض دیوې ابلاغیې په شکل په داخل او خارج کښې- نشر ته سپاري.

(په حاشیه کې په لاس لیکل شوي:) دحالاتو غوښتنه ... کښې ویلای شی الضافه ... خلک ګرځي د آسمان په کنارو کښې ... ته لا او الف، بې، د ترڅ ګنیو ... دنفاق او جهالت په سیلاب کښې ... که دا غوږ چه هرڅه نه بې بروا شو ... مادېنی محبت په لاړو لوندکېږه ... که یه نه ګورمه پری حق او حقیقت ته ... ماپه حسې بې نظره ستوګو ... روښنداد کېږه

په پورته جدول په دوه ورقو کې چه اوولس ماده لري او دوه ورقې ضمایم وه لري د انتخاباتو لایحه ترتیب

شو صحت دی. تائیدونو منظور دی. مولوي ارشت خان جماعت الدعوة

حاجي اول خان جبهه نجات

حاجي عبدالغفور حزب نوبت (?)

مولوي غلام رحمن جماعت الدعوة

والسلام مولوي غلام رباني دعالي کمیسون رئیس

حاجي بختیار ... 

عبدالنصیر محاذ ملي

حاجي ګلزران جمعیت اسلامي

نشتی کمبون ...

حرکت منصور

حزب اسلامي

محاذ ملي

مولوي محمد جلال

عبدالجبار محاذ ملي

[illegible]

| ګڼه | اصلي حلقې | انتخاباتي مرکز | فرعي حلقې | انتخاباتي مرکز |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | برکمټال | برکمټال | دروش او مربوطه کمپونه ئې | دروش |
| | | | چترال، شدی او مربوطه کمپونه ئې | شدی |
| ۲ | کامدیش | کامدیش | دروش او مربوطه کمپونه ئې | دروش |
| | | | چترال، شدی او مربوطه کمپونه ئې | شدی |
| ۳ | ناړي | ناړي | | |
| ۴ | اسمار | اسمار | نشه ګام او مربوطات ئې | نشه ګام |
| ۵ | دانګام | دانګام | | |
| ۶ | شیګل | دشیګل تمانه | | |
| ۷ | شلتن | دشیګل تمانه | | |
| ۸ | مروره | مروره | | |
| ۹ | سرکانو | سرکانو | | |
| ۱۰ | خاص کنړ | خاص کنړ | | |
| ۱۱ | نورګل | نورګل | | |
| ۱۲ | خوګی | خوګی | | |
| ۱۳ | نرنګ | نرنګ | | |
| ۱۴ | اسداباد | لیسه عمراخان | دیوز او مربوطات ئې | دیوز |
| | | | کمبیر او مربوطات ئې | کمبیر |
| | | | وټه پور او مربوطات ئې | وټه پور |
| ۱۵ | مانوګی | مانوګی | بارکنډی او مربوطات ئې | کنډه ګل |
| ۱۶ | چپه دره | نیک ګاه | دمسود دره | ګوسلک |
| ۱۷ | نورستان شرقي | وانټ | ویګل او مربوطات ئې | ویګل |
| ۱۸ | نورستان مرکزي | واما | پارون او مربوطات ئې | پارون |

دکنړونو دولایت مربوطه کمپونو کې داصلي او فرعي حلقو جدول د ۱۳۶۸ هش کال له پاره!

| ګڼه | اصلي حلقې | فرعي حلقې |
|---|---|---|
| ۱ | ناړي | دوبا |
| | | بانډې |
| | | تیمر |
| | | ملکهک |
| ۲ | اسمار | راغمان |
| | | طور |
| | | معیار |
| ۳ | دانګام | راغمان |
| | | طور |
| | | معیار |
| ۴ | شیګل | یوسف اباد |
| | | خزانه |
| | | بهائي چینه |
| | | طور |
| | | چلدره |
| ۵ | شلتن | چپتره |
| | | شاجهان اباد ع۱ |
| ۶ | مروره | عمري |
| | | شاجهان اباد |
| ۷ | سرکانو | ناوګی |
| | | ننجګل |
| ۸ | خاص کنړ | ناوګی |
| | | یکه غني |
| | | رشلې |
| ۹ | نرنګ | ناوګی |
| | | رشلې |
| | | یکه غني |
| | | جهانګیر اباد |
| ۱۰ | خوګي | ناوګی |
| | | یکه غني |
| | | رشلې |
| ۱۱ | نورګل | ناوګی |
| | | یکه غني |
| | | رشلې |
| ۱۲ | اسداباد | کرهاله |
| | | جهانګیر اباد |
| | | دمه دوله ع۶ |
| | | بچي ع۶ |
| | | رشلې |
| ۱۳ | مانوګي | شاجهان اباد |
| | | چار |
| | | دمه دوله ع۱ |
| | | دمه دوله ع۲ |
| | | دمه دوله ع۳ |
| | | دمه دوله ع۴ |
| ۱۴ | چپه دره | چلدره |
| | | تیمر |
| | | دمه دوله ع۱ |
| | | دمه دوله ع۲ |
| | | دمه دوله ع۳ |
| | | دمه دوله ع۴ |
| ۱۵ | نورستان مرکزي | راغمان |
| ۱۶ | نورستان شرقي | دروش |
| | | شدی |

ضروري هدایات

۱- ددې جدول ټولې فرعي حلقې په پاکستان کې جوړ شوي دمهاجرینو کمپونه دي.

۲- هره فرعي حلقه مستقل انتخاباتي مرکز دی چه رایې ګیري (دوه اچول) پکې صورت نیسي.

۳- داصلي حلقو اوسیدونکي مهاجرین او مجاهدین چه درایې ورکوونکي اهلیت ولري دپاکستان په هرکمپ او هرځای کې اوسیږي په نوروپورتنیو ماتولو اوسېږي دوی حق لري چه په انتخاباتي مرکزونو کې حاضر او رایې ورکړي.

۴- دانتخاباتو دپروګرام دکنټرول او مراقبت عمومي کمیسون به سربېره په انتخاباتي مرکزونو یو مستقل انتخاباتي کمیسون موظف کوي.

۵- هرانتخاباتي کمیسون به دخپلو ټولوغړو، امنیتي موظفینو او نورو ضروري لوازمو سره دانتخاباتو داعلان شوي نیټې څخه یوه ورځ دمخه خپل ټاکلي انتخاباتي مرکز ته حاضر او دانتخاباتو دلایحې مطابق به خپل ورسپارل شوي عملي وظائف تنظیموي.

ځوانان هغه دي چه همتناک وي
دننګ په کارکې چست او چالاک وي
په اخلاص، صفائي عمل ګواه وي
په خوله هم پاک وي په زړه هم پاک وي
چه حق وینا کړي حق ئې کول وي
ګوله دې وي ورته نوښاد ئې پاک وي

دوهم مخ پاتې

# دساما، دماؤیستي سازمان

ځای دراپوټ سره سم د «نادرعلي «پویا» تر اعدام وروسته دساما د ډلې مرکزي کمېټې دیوې غونډې په ترځ کښې عبدالقیوم کلکاني دد غې ډلې دعمومي منشي او رهبر په توګه وټاکه.

عبدالقیوم کلکاني په پاکستان کښې دکمونیستو افرادو دراټولولو او تنظیمولو له پاره پېښور ته راغلی وو.

منبع زیاتوي: کله چه کلکاني په حیات آباد کې دخپل کورمخې ته له خپل موټر څخه ښکته کېده دځونه پېژندل شویو افرادو له خوا وویشتل شو او وژل شو. تراوسه پورې هیڅ ډلې ددغه وژنې مسئولیت په غاړه نه دی اخستی.

(اداره)

(په حاشیه کې په لاس لیکل شوي:) دمعلومات باد دونه مجتم و لوستونکو! ... ګنه کښی وعده کړی وه چه په دې ګڼه کښې به دد پوروبی ژورنالست دمضمون پاتې برخه خپره کړو، خود کنړ دولایت دمتحده اسلامي شورا دانتخاباتي کمیسیون دکار او لایحې جدول پوځوروړي چه معذرت غواړو ...

دوهم مخ پاتې

# د روس او امریکا جوړجاړې دافغانستان...

درلوده لویدیځ هم دهغه ننګه او ملاتړ وکړ، خو کله چه خبره په افغانستان کښې داسلامي نظام او داسلام دحاکمیت اوبرلاسی شوه، نو دواړو لویو قدرتونو خپل غوږونه بوځ کړل او دیوبل ترڅنګ ودرېدل.

زمونږ داسلامي انقلاب په دې حساس او سرنوشت ټاکونکي پړاو کښې چه دانسانیت او اسلامیت دښمنان دهېڅ له پاره دعدم کندې ته دلوېدو په حال کښې دي، ختیځ او لویدیځ دخپل فطري خاصیت سره سم په افغانستان کښې دیو سوچه اسلامي حکومت دجوړېدو مخنیوی کوي - دوئ دخپل پوچ او بې محتوی منطق په اساس د اوه لس لکو شهیدانو آرمان چه په افغانستان کښې دیو سوچه اسلامي حکومت جوړېدل دي، ناليدلی نیسي او د داسې بې خاصیته خلکو د رامنځته کېدلو هلې ځلې کوي چه هغوئ دافغانستان په لس کلن جهاد کښې یوه ورځ حتی د افسوس آواز هم نه دی کړی.

مونږ په وار وار په دې هکله خپل موقف اعلان کړی او اوس بیا هم دختیځ او لویدیځ دجوړجاړې په هکله اعلانوو چه:

زمونږ اتلو شهیدانو او غازیانو داجهاد په دې آرمان پیل کړی ؤ چه لومړي به په افغانستان کښې دکمونیزم سیطره ختموو، بیا به په افغانستان کښې الهي نظام حاکموو، وروسته به ددغه نظام د تعمیم له پاره هماغه لاره غوره کوو لکه څنګه چه مو دځان د پاره غوره کړې وه، اوس هم په خپل همدې موقف ولاړ یو او دخپلو شهیدانو آرمان نه هېروو زمونږ مجاهدین له کفره سره دجګړې په تاوده سنګر کښې داشعر زمزمه کوي چه:

«په جهان «دمجاهد» دي دا دوه کاره»
«یا به وخوري ګکري یا به کامران شي»

# «ترآبده به په خپل اصلي قوت ټینګې او مستحکمې ولاړې وي»

«مولوي جمیل الرحمن»

شپارسونه
د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: مولوی جمیل الرحمن
خپرونکی اداره: د دعوت او ارشاد ریاست
فرهنګی مدیریت
تاسیس کال: ۱۴۰۷ هق یا ۱۳۶۵ هش
پوسته بکس نمبر ۱۲۰۲ پښاور - پاکستان

بقیه صفحهٔ اول

## تحلیل کوتاهی پیرامون وتبلیغات ناکام...

آفرین و انقلاب را چون افغانستان گرفته نمی شد؛ امنیت جهانی به مخاطره افتیده وامت بشری از شورش ایمن نمی ماند.

تبلیغات رنگارنگ وواکنشهای منفی استعمارگران وبقایای شومشان درتاریخ جهاد اسلامي افغانستان نه تنها تاثیرات سوء بجاگذاشته نتوانسته بلکه برعکس آن عزم واراده ٔ ملت را استحکام بخشیده واتحاد و همبستگی نیروهای مبارز ومجاهد آن افزایش داده است.

درگذشته هم این افغانها بودند که با بزرگترین نیروهای شیطانی ومتمرد دنیا پنجه داده و مسلح ترین افواج جهانی را در راه حصول استقلال اسلامي وانسانی خویش ازهم متلاشی ساختند.

آکنون همین سنگرداران راه اسلام آند که با الهام ازمنابع قرآن و سنة عنوان نخستین تجاوزگر قرن حاضر و دژ پولادین پهنهٔ گیتی وبالآخره قدرت افسانهای « ناشکن تاریخ !! » را از صحنهٔ روزگار تاریخ حذف کرده (اینست که گورباچوف بعد از طی معرکه- - سازی های خونین انقلاب که همواره خودرا لنگرد با مجاهدین در شکست های افتضاحانه مي بینند، جهت منطقی دادن به اعمال کمونیستی خویش وجلو- -گیری از سخافت وپستی های آن هجوم نا هنجار ارتش بی عاطفهٔ روسی در افغانستان را اشتباه برژنیف میخواند و درانظار جهانیان نمایش میدهد).

ودرآینده نیز همین افغانها خواهند بود که با تجارب از دوره های ننگین و تاریک تاریخ غلط فهمی را ازخود برون داده ودرانتخاب از صراط مستقیم به عنوان یگانه راه معقول، پسندیده و سعادت بخش- بدون کج فهمي ها واغنا گرایها که عاری از هرگونه خرافات، سنتهای پوسیده (صنعات ورسم ورواج های خلاف قرآن وسنت) وایدیالوژیهای خود ساخته بشری بوده باشد امتناع ورزیده وبا تمسك به قرآن و سنت این دومنبع بزرگ الهام بخش آسمانی وچشمهٔ ذلال حیات اجتماعی وانسانی در راه تحکیم واستقرار حکومت عدل الهي که متضمن همه آرمانها،

نیازها وهدفهای انسانی وواجد شرایط آسان برای زندگی انفرادي واجتماعی وبا درنظر داشت طردکامل شیوه های استثماری اعم از فردی !! وجمعی !! وبالآخره استعمار واستکبارجهانی و همچنان محوکامل نظامات کفری، شرکی ورسومات مبتذل یونانی از متن وحواشی افکار واذهان در جوامع اسلامي، این وصدها غموضات وپیچیدگیهای دیگر که ملتها را تباه وجامعه ها را آرکود کشانده، استیلا یا فته وباتجدید واعمار مجدد آن که در طوالی دوره های تاریخ از بطن ملتها فاصله گرفته ودر متن ملتها نسبتاً بیگانه شده است، یکبار دیگر بسرنوشت بشریت مظلوم ومحروم حکومت نموده وبا توزین و تعدیل وضع ناگوار ونابسامانیهای دیگر زندگی درترازوی عدلش بروز شکستگی ها وسراشیبی ها انسان در دنیای امروز، خاتمه دهد، تا شاید که بشریت وبالخصوص مسلمانها بعد از گذشت سال های متوالي، عظمت از دست رفتهٔ خویش را مجدداً بازیافت نموده وبه سیادت وپیشوائی دوبارهٔ خود نایل آیند. برامید طلوع آفتاب آنروز.

- والسّلام »

بقیهٔ صفحهٔ اول

## شورش هـای شـهر دوشنبی....

آند تا امور جمهوریت را بعهده بگیرند و از بین رفتن ارگانهای محلی را تقاضا کرده آند ومطالباتی را به عمل آورده ند که صبغهٔ اسلامي داشت. رادیو مسکو گذارش داد که خشونت به اطراف شهر دوشنبی سرایت کرده است. گذارش ها حاکی است که مردم شعار های ضد روسی وضد ارمینی میدادند. آنها با تانك ها مقابله نموده وعمارت کمیتهٔ مرکزي حزب کمونیست را آتش زدند، همچنان از گلوله های متفرق نیز گذارش داده شده است.

گذارش های واصله از مسکو حاکی است که این آشوب ها از شایعاتی نشئت کرد که میگفت: به هزاران تن از آرمنیهای که از آذربایجان به تاجکستان منتقل شده آند در دادن پارتمان ها وکار حق اولیت داشته باشند. تاجکستان به قلت شدید مسکن مواجه میباشد. روزنامهٔ جوانان کمونیست شوروي نوشته است که مقامات در جمهوریت مجاور، اوزبکستان » مجازات اعمالی را که باعث خشونت نژاد ومرجی میگردند، افزایش داده اند. گورباچوف رهبر شوروي خواستار شده است تا علیه کسانیکه خشونت های نژادي را تحریك میکنند از حد اعظمي مجازات قانونی استفاده شود. گورباچوف طی بیانیه ای در جلسهٔ افتاحیهٔ اجلاس سوم پارلمان شوروي گفت:

مسودهٔ قانون جهت برخورد به این آشوب ها به پارلمان ارائه خواهد شد. او گفت:

سرنوشت امنیت مردم شوروي به مخاطره افتاده است وبرای خاتمه دادن به خشونت های نژادي باید ازهیچ چیز مذایقه نه شود. درعین زمان رادیو مسکو گذارش داد که جبههٔ مردم آذربایجان در مسکو مظاهره نموده خواستار لغو حالت اضطراري وخروج قشون شوروي از آذربایجان شده است.

رادیو مسکو همچنان گذارش داد که پناه گزینان روسی نژاد آذربایجان در مسکو مظاهره نموده وخواستار یک زندگی عادی ومرفع گردیده آند. انتظار میرود که سومین اجلاس پارلمان شوروي برعلاوه شورش های نژادی افزایش صلاحیت رئیس جمهوري کاهش صلاحیت حزب کمونیست را نیز مورد بحث قرار دهد.

دلومړي مخ پاتې

## دسرنگر په بنارکې مسلمانانودوه...

ووژل شو. خبري آژانسونه وايي چه د سه شنبې په ورځ د سرنګر پولیسو او ملیشو د مبارزو کشمیریانو (۱۵) پټ ځایونه لټولي دي. تراوسه پورې نه دي وسیل شوي چه څوك نیول شوي یا وسله پیدا شوی ده. نورو ماموړینو ویلی چه دا ستخبار ا تولو راپورونو نه بنکاري چه مبارزو کشمیریانو راکټ لینچر او ټوغندي لاسته راوړي وي او غواړي چه زیاته خرابکاري وکړي. په وروستي انکشاف کښې د جمو او کشمیر د ستري محکمې دکار کوونکو اتحادیې ویلي چه په دغه ایالت کښې د پولیسو د زور زیاتي له کبله د حکومتي ماموریت نه استعفا وکړي. نطاق وویل چه په زرګونو د دعوي وکیلان دا کار د کشمیر د خلکو سره د ملاتړ د پاره کوي. سرنګر او د کشمیر په ټوله سیمه کښې د جنوري د شلمي نېټې نه را په دې خوا په ګرځېدو راګرځېد بندیز لګول شوی دی. په سرنګر کې زښتي زیاتې ملېشه قواوې اچول شوي دي چه دغه بندیز عملي کړي. بله خبره په سرنګر کې په خبرو باندی بندیز لګول دی. اوس خبرونه یوازې حکومتي اطلاعاتي موسسې خپروي او ورځپاڼو په خوښه هغوی کښې نه دي چاپ کړی او خارجي خبریالان نه پرېږدي چه کشمیر ته ولاړشي ورو وروسته له هغې چه په (۱۹۴۷) م کال کې هند په دوه برخو وویشل شو. کشمیر د هند او پاکستان ترمنځ د اختلاف ور موضوع ده. د دواړو هیوادو ترمنځ دري ځلي جنګونه شوي چه دوه یې د کشمیر په سر وه په دې ورځو کښې د سرحد په دواړو- خواو وکښې خلک په غصه دي او یکښې په ورځ کلچه مظاهرې چیان د هندي کشمیر خاورې ته ننوتل - سرحدی قواو په هغو ډزې وکړې ځږ شمیر کشمیري مظاهره چیان مړ کال شول.

دلومړي مخ پاتې

## په تاجکستان کې د روسانو په ضد...

له پاره یوه جدي خبره ګڼل کېږي په مرکزي آسیا کښې چه اکثریت خلك یې مسلمانان او (۳۵) میلیونه نفوس په کښې ژوندکوي. مسکو- غواړي چه دا سیمه آرامه وساتي، په دې سیمه کښې مختلف نژادونه لکه ازبکان، تاجکان، ترکمنان، قزاقان، روسان او نور له اوکراین څخه راکډه شوی خلك او ځنی نور کوچني ملیتونه مېشته او ژوند کوي چه ستالین دې سیمې ته راوستي وو.

دغه روپوټونه څه ناڅه حیرانتیا راپیداکوي، هغه له دې کبله چه په تاجکستان کې د آرمنیانو اقلیت خورا کوچنی دی څو په دې جمهوریت کې دوی ته دراپور ته کېدو موقع لاسته ور نه شي.

خو د مرکزي آسیا په یو جمهوریت کښې د ارمنیانو په ضد ریوټونه تائیدوی چه د مرکزي آسیا مسلمانانو د خپل آذربایجاني ورونو سره خپل کلک ملاتړ څرګند کړی دی.

تاجکان برعکس د نورو مسلمانانو په شان په ترکی ژبه نه پوهېږي، د دوی ژبه فارسي ده چه د افغانستان دري ژبې ته نږدې ده. د دوی اسلامي احساسات د سرحد نه پورې غاړه افغانستان کښې د کمونیزم پرضد د جهاد په نتیجه کې دراژوندي- کېږي و په حال کې دي او د افغانستان مجاهدینو ته د تاجکستان مسلمانان د خپلو ورونو په سترګه ګوري.

ګورباچوف ته د تاجکستان په دوشنبی بنار کې راپورته شوی ناقراري په اسلامي نړۍ کښې د اسلامي غورځنګونو په څېر یوه ځانګړی محلي څپه ده.

ضمناً د آکرانه خبره ده چه د پخوانیو رپوټونو اساس یابی دې د دغو ناکراریو په هکله وکړی شي خو د احتجاج کوونکو راتولېدل به د کمونیست ګوندنه بهر د مسکو دواکدارانو د پاره سرخوږي پیدا کړي لکه چه په نورو جمهوریتو کې د ملیت پالنې غورځنګ راپارېدلی نو شاید چه د کمونیست ګوند پر ضد په تاجکستان کې اسلامي غورځنګ هم وخېژي.

دلومړي مخ پاتې

## اسلامي کانفرنس دکشمیر له مسلمانانو....

خپلې خوښې د حکومت د انتخابولو حق ورکړشي. ده وویل:

چه دا دامن خوښوونکو او د انساني آزادۍ او د خپلواکۍ د حق د پلویانو ملکونو د مه واړي ده چه د کشمیر د مسلمانانو د سر، مال او ناموس د ساتنې او حفاظت له پاره د هند واکداران د پوځي قوې او طاقت له استعمالولو نه منع کړي. ښاغلی ډاکټر حامد العابد داهم وویل:

چه اسلامي کانفرنس د کشمیر له مسلمانانو سره په غوښه توګه خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

د یو بل خبر له مخې په نیویارك کښې میشته مسلمانانو هم په دې نږدې ورځو کښې د کشمیر له مسلمانانو سره خپل ملاتړ اعلان کړ. څو ورځې وړاندې یو شمیر د برخې مسلمانانو په نیویارک کښې د هند د سفارت مخې ته یوه احتجاجي مظاهره وکړه او د هند له حکومت څخه یې وغوښتل چه د کشمیر په مسلمانانو باندی له زورزیاتي څخه لاس واخلي.

دلومړي مخ پاتې

## قرآني دعوت او هدایت

دد اپي مشیدې له وړاندی نه حرام کړی وې نو د حضرت موسی (ع) خور وویل:

زه به تاسو ته داسی کور و ښایم چه ستا سو د پاره دا هلك وپالي او په خیرخواهی سره یې ورونزې. نو مو نږ په دې ډول موسی علیه السلام بېرته د خپلې مور غېږې ته ورساوه ترڅو سترګې یې وربا ندی خوښې شي او پریشانه نه شي او دا ورته ثابته شي چه د الله تعالی جل جلاله وعده رښتونی ده خو ډیر خلك ور باندی نه پوهېږي.

## خبرتیا

محترمو لوستونکو ته خبر ورکول کېږي چه د « جماعة الدعوة » دعالي شورۍ د لزوم دید او پرېکړې په اساس د دعوت او ارشاد کمېټه د خپلو اهمو ندو د زیاتوالي او د فرهنګی چارو د لاسمبالښت په غرض په « دعوت او ارشاد » او « فرهنګي » بېلو بېلو کمېټو باندی وویشل شوه. امید دی چه د عالي شورۍ دا پرېکړه به د دعوت او فرهنګي چارو په سمون کښې اغیزمنه ثابت شي.

په دې اساس شیخ القرآن والحدیث مولوی غلام الله « رحمتی » صاحب د دعوت او ارشاد د کمېټې د مسئول او ښاغلی مولوی صاحب غلام محمد د فرهنګی چارو د مسئول په توګه وټاکل شول.

د « الدعوة » د جریدې کار کوونکی د دغو دواړو علماوو لا بریالیتوب له لوی الله جل جلاله نه غواړي.

( وما النصر الا من عند الله )